# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۲/ ربيع الاول/۱۴۴۷ هـ، ق موافق ۱۴ /سنبله /۱۴۰۴هـ، ش**

## پر مسلمانانو په تير بيا په مهاجرينو ، ظلم او سختي راوستل د انساني او اسلامي اخلاقو خلاف عمل دی.

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الحمد لله رب العالمين، ناصر المستضعفين ومجير المستجيرين ومغيث المستغيثين من استغاث به أغاثه وأعانه ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد يحي ويميت وهو على كل شيء قدير، أمر بالتعاون والتناصر والتآزر بين احاد الأمة الاسلامية ، وأشهد أن سيدنا محمد رسول الله (ﷺ) أوصى بإغاثة الملهوفين وتفريج كربة المكروبين وبين أنها السبيل إلى الجنة النعيم، فاللهم صل علي سيدنا محمد وعلي آله وصحبه وسلم أجمعين ،أما بعد: فقال تعالى: { وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ }.[ المائدة: ٢]

**گرانو او درنو حاضرينو!**

### السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

د اسلام د سپيڅلي دين د ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړتيا داده چې پر خلکو او مسلمانانو باندې يې ظلم کول او پر هغوی سختي راوستل حرام کړی دي او خپل پيروان يې هڅولي دي چې د محتاجو او اړمنو خلکو سره د ســختۍ پر وخت مرســته او همدردي وکړي او په تکليف کې د واقع شوو خلکو سره خواخوږي وکړي او د مشقت پر وخت د هغوی لاس نيوی وکړي او دا هرڅه ثواب لري.

الله جل جلاله په ګڼو آيتونو کې او ر سول الله صلى الله عليه و سلم په بې شميره احاديثو کې پر مسلمان باندې ظلم کول حرام کړي . همداراز پر مسلمان باندې سختي راوستل او مسلمان په مشقت کې اچول د اسلامي اخلاقو څخه مخالف عمل دی.

په يو قدسي حديث شريف کې راځي: وعن أبي ذر رضي الله عنه عن النبي صــلى الله عليه وســلم فيما روي عن الله تبارک وتعالى أنه قال:« يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ على نَفْسِي وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّماً فَلاَ تَظَالَمُوا» . صحيح مسلم (۸ /۱۶)

ژباړه:- له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم و فرمايي چې الله تعالی فرمايلي دي : ای زما بندګانو! ما ظلم پرځان حرام کړی دی او ستاسو ترمنځ مې هم حرام کړی دی، نو يو پر بل باندې ظلم مکوئ .

علماء کرام وايې چې ظلم په درې ډوله دی: يو هغه ظلم دی چې نه بښل کيږي چې هغه د الله تعالی سره شريک نيول دي.

بل هغه ظلم دی چې په توبې سره بښـل کيږي چې هغه د انســان په خپل ځان ظلم کول دي لکه ګناهونه کول. او دريم دالله تعالی په بندګانو ظلم دی، چې دا ډول ظلم ډير وخيم او دروند ظلم دی .

**درنو حاضرینو او اوریدونکو!**

مونږ او تاسې ټول خبر یو چې په دې شپو او ورځو کې د ګاونډیو هیوادونو څخه هلته پراته مهاجرین په ډیره بې رحمانه ډول راویستل کیږي . له دغو مهاجرینو څخه ټوله دارایي او د هغوی د لاس په تنیاکو ګټل شوی جایدادونه او ملکیتونه په میزبان هیواد کې پاتې کیږي او تش لاسونه له خپلو هیوادونو څخه شړل کیږي ، کله چې خپل وطن ته راوګرځي ، نو اکثره یې کور نلري، کار او کسب نلري او د اوسیدو ټاټوبی یې معلوم نه وي او کوښښ کوي چې د اوسیدو لپاره کور په کرایه راونیسي ، خو متأسفانه دغه مهاجرین په خپل وطن کې د خپلو هیوادوالو له ظلم سره مخ دي او هغه دا چې په مرکز ،ولایاتو او ولسوالیو کې هغو خلکو چې د کرایې کورونه لري کرایه یې د معمول څخه زیاته کړی ده او آن تر دې چې په ځینو کورونو کې چې پخوا کوم خلک په کمه کرایه اوســیدل هغه د کور څخه هم په مختلفو بهانو ویستل کیږي ترڅو دغه کور او دوکان مهاجرینو ته په لوړه کرایه ورکړي چې دا کار د مهاجرینو په حق کې سراسر ظلم دی او د نفس پرستي ده او د وروګلوۍ او اسلامي اخلاقو مخالف عمل دی.

ډیره د حیرانتیا خبره ده چې زمونږ هیوادوال په خپلو مهاجرینو وروڼو باندې داسې ظلم ولې روا بولي؟

آیا دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه حدیث څخه خبر نه دي چې فرمایي د ظلم ، بُخل، حرص او نفس پرستۍ څخه ځانونه وســاتئ، ځکه چې نفس پرســتي هلاکول کوي. عن جابر بن عبدالله رضي الله عنه : أن رســول الله قال : « اتَّقُوا الظُّلمَ ؛ فَإِنَّ الظُّلمَ ظُلُماتٌ يومَ القِيامَةِ، وَاتَّقُوا الشُّحَّ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ ، وَاستَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ . ». صحيح مسلم (٨ /١٨)

ژباړه:- له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل: له ظلم څخه ځانونه وژغورئ، ظلم د قیامت په ورځ تیارې دي او د حرص او نفس پرستۍ څخه ځانونه وساتئ ځکه چې حرص او نفس پرستۍ هلاک کړي دي هغه خوک چې ستاسو څخه مخکې ؤ.

امام طیبی رح ددې حدیث په شرح کې وایي: (ثم عطف الشح الذي هو نوع من أنواع الظلم علي الظلم ليشعر أن الشح أعظم أنواعه؛ لأنه من نتيجة حب الدنيا و شهواتها... وإنما كان الشح سبب سفك الدماء وا ستحلال المحارم؛ لأن في بذل الأموال وموا ساة الإخوان التحاب والتواصل، وفي الإمساك والشح التهاجر والتقاطع، وذلك يؤدى إلي التشاجر والتغاور من سفك الدماء، واستباحة المحارم ). الكاشف عن حقائق السنن للطيبي (٥ /١٥٢٥)

ژباړه:- په حدیث کې (الشُّح) په ظلم باندې عطف شوی دی، ځکه چې نفس پرستي او حرص د ظلم له ډولونو څخه دی، ترڅو معلومه شي چې نفس پرســتي او حرص د ظلم د ســترو ډولونو څخه دی، ځکه چې نفس پرســتي او د مال حرص د دنیا د محبت او د دنیا د شــهوت نتیجه ده.او نفس پرســتي او حرص ځکه د وینو د تویولو او د محارمو د حلال ګڼلو ســبب دی چې د مال په خرڅ کولو کې د ورونو ترمنځ خواخوږي رامنځ ته کیږي او محبت پیداکیږي او پیوســتون په کې موجود وي ، خو په بخل او نفس پرســتۍ کې یو د بل بیزاري، جدایې او مقاطعه موجوده وي او دا کارونه د جګړو، شــخړو لامل دی چې وینې هم په کې توئیږي او محارم هم په کې حلال ګڼل هم کیږي.

**ای هیوادوالو!**

الله جل جلاله ظالم شخص ته یو څه وخت مهلت ورکوي خو بیایې رانیسي او کله چې یې راونیولو بیایې نه پریږدي.

الله تعالی فرمایلي دي: (وَلاَ تَحْسَبَنَّ اللّهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الأَبْصَارُ، مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لاَ يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاء) [إبراهيم : ٤٣ ]

ترجمه:- او مه کوه ګمان (ای انســانه) په الله چې غافل ( بې خبره) دی له هغو کارونو چې کوي یې ظالمان! بېشــکه همدا خبره ده چې وروستي کوي دوی هغې ورځې ته چې خلاصې به پاتې وي (له ډېر وېرې) په هغو کې سترګې چې منډې وهونکې وي دا (مخلوقات)

چې جګ (اوچت) نیوونکي به وي د سرونو خپلو( په طرف د لونکي محشر- کې) بېرته به نه ګرځي دوی ته رپول د سترګو د دوی او زړونه د دوی به تش وي (له عقله او فهمه له ډېرې وېرې).

په حديث شريف کې راځي: عن أبي موسى رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : «إِنَّ اللهَ لَيملِي لِلظَّالِمِ حتى إِذَا أَخَذَهُ لَم يفلِتهُ » قَالَ : « ثُمَّ قَرَأَ: ( وَكَذَلِكَ أَخذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ القُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ). متفق عليه

ژباړه:- له ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : الله ظالم ته مهلت ورکوي اما کله چې هغه ونيسي، نو بيا يې نه پرېږدي بيا يې دا آيت تلاوت کړ : ( وَكَذَلِكَ أَخذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ القُرَى وَهِيَ ظَالِمَةٌ إِنَّ أَخذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ ).

بناءً مونږ او تاسو لره په کارده چې د الله تعالى د نيولو څخه او د هغه د عذاب څخه ځانونه وساتو او په خپلو هيوادوالو له ظلم کولو څخه لاس واخلو.

دا څرنګه مسلماني ده چې مونږ د مجبور او محتاج ورور محتاجي غنيمت وګڼو او د هغه د بې وسۍ څخه ناوړه استفاده وکړو او کرايه ورته زياته کړو ؟

داسلامي اخلاقو تقاضا خو داده چې مونږ د راستنيدونکو مهاجرينو لاس نيوی وکړو او کور ورته مفت ورکړو او په خپل نفس باندې پېښې کيږدو لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ) [الحشر: ٩]

ترجمه:- او غوره کوي (مهاجران) مقدموي يې پر خپلو ځانونو او اګر که وي پر دوی باندې تنګي او هر هغه څوک چې و ساتلی شي له بخل د نفس د ده نه نو هماغه کسان دي همدوی مراد موندونکي په مراد رسيدلي.

قرآن کريم الله تعالى د مسلمانانو داسې صفت بيانوي:(وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ) [الحشر: ٩]

ترجمه:- او (حقيقي مؤمنان) هغه کسان دي چې په خپلو ځانونو باندې نورو ته ترجيح ورکوي ، اګر که په دوی باندې تنګي هم (او حاجت مندي) وي.

**درنو حاضرينو او اوريدونکو!**

مونږ او تاسو لره داسې قرباني ورکول په کار ده لکه چې د مدينې منورې انصارو چې د مهاجرينو سره وکړه.د مدينې منورې انصارو د مهاجرينو سره خپل مالونه او جايدادونه نيم کړل او له ځانونو سره په ګټه او ثمره کې شريک کړل.

امام ابن کثير په خپل تفسير کې ذکر کړي دي چې کله مهاجرين مدينې منورې ته ورغلل ، نو پيغمبر عليه السلام انصارو ته وفرمايل:( :« إن إخوانكم تركوا الأموال والأولاد وخرجوا إليكم» فقالوا : أموالنا بينهم قطائع ، فقال :« أو غير ذلك » فقالوا : وما ذاك يا رسول الله ؟ فقال : « هم قوم لا يعرفون العمل فتكفونهم وتقاسمونهم التمر . قالوا نعم يا رسول الله» . تفسير ابن كثير / دار الفكر (٤ /٤٠٦)، تفسير النكت والعيون ـ (٥ /٥٠٦)

ژباړه: بيشکه ستاسو ورونو(مهاجرينو) خپل مالونه او اولادونه پريښي او تاسو ته راغلي دي. انصارو وويل: زمونږ مالونه ددوی سره تقسيم دي. نبي عليه السلام وفرمايل: آيا ددينه علاوه نور څه کولای شئ؟ انصارو وويل: هغه څرنګه يار سول الله ! نبي عليه السلام ورته وفرمايل: دوی (مهاجرين) داسې خلک دي چې په (په باغونو) کې په کار کولو نه پوهيږي ، نو تاسو به ددوی په عوض کې کار وکړئ او بيا به ورسره خرما تقسيم کړئ.انصارو وويل: سمه ده ای د الله رسوله! .

همدا روايت امام بخاري داسې ذکر کړی دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَتْ الْأَنْصَارُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اقْسِمْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ إِخْوَانِنَا النَّخِيلَ قَالَ لَا فَقَالُوا تَكْفُونَا الْمَئُونَةَ وَنَشْرَكْكُمْ فِي الثَّمَرَةِ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا صحيح البخاري ت (٦ /٤٣)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې انصارو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل: (ای رسول الله!) تقسيم کړه زمونږ او زمونږ د ورونو ترمنځ د خرما ونې. نبي عليه السلام وفرمايل: نه! (داسې نه کوو) نو انصارو وويل: تاسو به زمونږ په عوض د خرما د ونو خدمت کوئ او مونږ به تاسو په ميوه کې شريک کړو. نو مهاجرينو وويل: وه مو اوريدله او قبلوه مو ده.

مونږ ته په کار دي چې د مدينې منورې د انصارو په شان اخلاق خپل کړو. (عن أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَتَاهُ الْمُهَاجِرُونَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُونَا فِي الْمَهْنَإِ). سنن الترمذي (٤/ ٦٥٣)

ترجمه:- کله چې نبي عليه السلام مدينې منورې ته په هجرت راغی مهاجرين ورته راغلل او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! مونږ نه دی ليدلی بل داسې قوم چې هغوی دی زيات خرچه کوونکی وي د ډير مال څخه او زيات خواخوږي دې کوي د کم مال د هغه قوم څخه چې مونږ ورته راغلي يو ، دوی زمونږ څخه تکليف او مشقت واخيست او مونږ يې د ميوو په ثمره کې له ځانونو سره شريک کړلو.

مونږ د خپلو راستنيدونکو مهاجرينو سره دا سې قرباني او ايثار نشو کولای ، نو بايد خپل ظلم او ناوړه سلوک بند کړو او کورونه ورته په زياته کرايه ورنکړو، دا به هم د مهاجرينو په حق کې يو ډول مرسته وي او کورونه ورته د پخوا په څير په کمه کرايه ورکړو. دا هم غوره کار دی ځکه چې په دې کې د مهاجر ورور سره کومک او مرسته ده. الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ} (المائدة: ٢]

ترجمه:- او تاسو له يو بل سره په نيکۍ او پرهيزګارۍ کې مدد کوئ او له ګناه او د ظلم په کارکې د يو بل مدد مه کوئ او له الله نه وويريږئ بيشکه الله ډير سخت عذاب ورکوونکی دی.

ا سلامي اخلاق دا ايجابوي چې د مهاجرينو سره مر سته وکړو او د دوی حاجتونه مرفوع کړو، ترڅو له دوی څخه د بې کوره کيدو دروند بار سپک شي. لکه څرنګه چې د صحابه کرامو اخلاق ؤ. په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ - صلى الله عليه و سلم- إِذْ جَاءَ رَجُلٌ عَلَى رَاحِلَةٍ لَهُ قَالَ فَجَعَلَ يَصْرِفُ بَصَرَهُ يَمِينًا وَ شِمَالاً فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم- مَنْ كَانَ مَعَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ ظَهْرَ لَهُ وَمَنْ كَانَ لَهُ فَضْلٌ مِنْ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ زَادَ لَهُ ). صحيح مسلم (٥/ ١٣٨)

ترجمه:- د ابو سعيدخدري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې مونږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره په يو سفر کې ؤ ، چې سړی راغی په خپله سپرلی باندې نو هغه شروع وکړه ښي لورې او کيڼ لورې ته سترګې اړولی را اړولی(ډوډۍ پسې). نبي عليه السلام وفرمايل: له چا سره چې ا ضافي سپرلي وي هغه دې هغه چا ته ورکړي چې سپرلۍ نلري او له چا سره چې ا ضافي خوراک وي هغه دې هغه چاته ورکړي چې خوراک نلري.

مهاجرينو ورونو ته کورونه په مناسبه کرايه ورکول په حقيقت کې د هغوی د حاجت رفع کول دي او د مسلمان د جاحت رفع کول يو ډول صدقه ده. نبي عليه السلام فرمايلي دي: عن أبي موسى الأ شعري رضي الله عنه قال: قال ر سول الله (ﷺ): «على كلِّ مُسلِمٍ صدقَةٌ ، فَقَالُوا يَا رسول اللَّهِ ، فَمَنْ لَمْ يَجِدْ ؟ قَالَ : يَعْمَلُ بِيَدِهِ ، فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ ، قَالُوا : فَإِنْ لَمْ يَجِدْ ؟ قَالَ : يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ، فإنْ لمْ يجِدْ فيعمَلُ بيدِهِ ، فينفَعُ نفسَهُ و يتصدَّقُ ، فإنْ لمْ يستطِعْ فيُعينُ ذا الحاجَةِ الملْهُوفَ».صحيح البخاري (١٥ /٢١١)

ژباړه:- د ابو موسی اشعری رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: په هر مسلمان صدقه لازم ده(ندباً أو مؤكدا) . صحابه کرامو وويل: ای دالله رسوله ! که چيرې څه ورسره نه وي چې صدقه يې کړي؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: په لاس باندې دې کار او کسب وکړي ،ځان ته به هم نفع ورسوي او صدقه به هم ور څخه ورکړي. صحابه کرامو عرض وکړ ای د الله رسوله! که چيرې کار ورته نه پيداکيږي؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: نو مرسته دې وکړي محتاج سره چې مصيبت او سختی ورته رسيدلي وی.

همدارنګه د کورونو د کرايې زياتول په حقيقت کې پر مسلمانانو سختۍ راوستل دي چې دا کار د اسلامي اخلاقو مخالف عمل دی.

اسلامي اخلاق دادي چې پر مسلمانانو بايد آساني راوستل شي او پر مسلمانانو د سختۍ راوستلو څخه ډډه وشي.

په حديث شريف کې راځي: (عن أَنَس بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَسَكِّنُوا وَلَا تُنَفِّرُوا). صحيح البخاري ت (١٥ /٣٥٦)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې نبي عليه السلام وفرمايل: تاسو آساني راولئ (پر مسلمانانو) او سختي مه راولئ، ارامي راولئ په خلکو کې نفرت مه پيدا کوئ.

ددې حديث په شرح کې محدثين وايي: خلک په تکليف کې مه اچوئ چې سبب د نفرت نشي.مرقاة المفاتيح (١١/ ٣٦١)

امام نووي رح ددې حديث په شرح کې وايي: په (يسروا) سره ټولې سختيې منتفي شوې په هر شکل کې چې وي . شرح النووي على مسلم (١٢ /٤١)

الله تعالى مسلمانانو ته امر کړی دی چې که چيرې ستا قرضداری پيسې نه درلودلې، نو په هغه به سختي نه راولئ بلکې هغه ته به انتظار کوئ ترڅو پيسه دار شي او دا وجوبي امر دی. (وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ)[البقرة:٢٨٠]

ترجمه:- او که وو پوروړی (قرض وړونکی) خاوند د ناداری نو پر تاسې لازم دی انتظار پوروړی (قرض وړونکی) ته تر وخته د پراخی د پوروړي (قرض وړونکي) او دا چې بخښنه وکړئ تا سې (دی پوروړي ته) خير (ډېره بهتره) ده تا سې ته که يئ تا سې چې پوهيږئ (په هغه خير).

دا سختي نه راوستل په هغه چا واجب دي چې په بل شخص باندې حق لري ؛ نو څوک چې په چا له لومړی ورڅې څخه کوم حق نلري ؛ نو په هغه باندې هم واجب دي چې په نورو مسلمانان سختي را نه ولي. تفسير القرطبي (٥ /٣٣)

له بل پلوه د کورونو د کرايانو په زياتولو سره مسلمانان په سختی او ضرر کې اچول دي او په اسلام کې د مسلمانانو په ضرر او سختی له اچولو څخه منع راغلی ده.

د دين عظيمه قاعده ده چې (لا ضرر ولا ضرار في الاسلام) الموطأ لمالک مرسلاً

ژباړه:- په اسلام کې نه په ابتداء کې چاته ضرر رسول شته او نه په انتهاء (انتقاماً) کې چاته ضرر رسول شته.

څوک چې پر مسلمانانو سختي راولي ، داسې شخص ته نبي عليه السلام بد دعائي کړی ده او په دې اړه سخت وعيد راغلی دی.

عَنْ أَبِى صِرْمَةَ صَاحِبِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- - عَنِ النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ ». سنن أبى داود-ن (٣ /٣٥١)، سنن ابن ماجه (٢ /٧٨٥)

ژباړه:- د ابو صبرمه رضي الله عنه -چې د نبي عليه السلام ملګر ؤ –د نبي عليه السلام څخه روايت دی ، هغه وايي چې بيشکه نبي عليه السلام وفرمايل: چاچې بل چاته ضرر ور سولو ، الله تعالى به ده ته ضرر ور سوي او چاچې سختي راو ستله په بل چا باندې ، الله تعالى به سختي راولي پر ده باندې.

په يو بل روايت کې راځي: عن أبي بكر الصديق قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم:« ملعون من ضار مؤمنا أو مكر به» سنن الترمذي (٤ /٣٣٢)

ژباړه:- د ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي: په هغه شخص لعنت شوی دی چې څوک مؤمن ته ضرر ورسوي او يا هغه ته فريب ورکړي.

همدا راز د مهاجرينو له امله د کورونو د کرايو زياتول په حقيقت کې مسلمانانو ته اذيت او زيان رسول دي او مسلمانانو ته اذيت او زيان رسول لويه ګناه ده. الله جل جلاله فرمايلي دي:(وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا) [الأحزاب:٥٨]

ترجمه:- او هغه کسان چې يذاء ر سوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غير د هغه کار چې کړی وي دوی (يعنې په ناکړي کار) پس په تحقيق باروي دوی پخپل ځان غټ دروغ او ګناه ښکاره (چې د عقوبت موجب دی).

امام قتاده رح وايې ځانونه وســاتئ د اذيت د مؤمن څخه ، بيشــكه الله د مؤمن حفاظت كوي او د مؤمن په حق كې په غضــب كيږي. تفسير الطبري(۲۰ /۳۲٤)

د كورونو كرايه لوړول د اسلامي اخوت مخالف كار دى . الله تعالى فرمايلي دي:(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ)[الحجرات: ۱۰]

ترجمه:- بېشكه چې مؤمنان ټول په دين كې سره ورونه دي.

د اسلامي اخوت تقاضا داده چې اسلامي ورور به له سختيو ژغورې او سختي به ورته نه اړوي، او د سختيو پروخت به يې حمايت كوي ؛ نو كه چيرې مونږ مهاجرينو ورونو ته د كورونو كرايې لوړه كړو دا كار د اسلامي اخوت مخالف عمل دى.

امام ابن رجب رحمه الله وايې: د ورور شـان دادى چې خپل ورور ته به نفع رسـوي او له خپل ورور څخه به ضرر دفع كوي او لوى ضرر چې دفع كول يې واجب دي هغه ظلم دى.

امام يحيي الرازي رح وايې: پر تا باندې د مؤمن درې ډوله حقوق دي : كه چيرې نفع ورته نه رســوئ،نو ضرر ورته مه رســوه او كه چيرې خوشـحالي ورته نه رسـوئ، نو غم ورته مه رسـوه او كه چيرې صـفت يې نه كوئ، نو مذمت يې مه بيانوه. جامع العلوم والحكم (۳۷/۲۰-۳۱)

كه چيرې واقعاً مونږ راســتنيدونكي مهاجرين خپل ورونه ګڼو، نو بايد د هغوى درد خپل درد وګڼو او د هغوى ســختي او مشــقت خپل مشقت وګڼو لكه چې په حديث شريف كې راغې:(عن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:مَثَلُ الْمُؤمِنِينَ فِي تَوَادِّهِم وَتَرَاحُمِهِم وَتَعَاطُفِهِم مَثَلُ الجَسَدِ، إِذَا اشتَكَي مِنهُ عُضوٌ تَدَاعَي لَهُ سَائِرُ الجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالحُمَّي). رواه مسلم

ژباړه:- له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دى وايي: ر سول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل : د مؤمنانو مثال يو د بل سره په محبت او مهربانۍ او شـفقت كې د يوه بدن په څير دى چې كله يو غړى له بدن څخه په درد راشي د بدن نور غړي هم د ده سره د هم غړۍ لپاره بې خوابۍ او تبې ته رابولي .

كه چيرې مونږ د كورونو مالكان نوره مرسـته نشـو كولاى، ښـه ګاونډيتوب خو زمونږ په وس او توان كې ده، او لازم دي چې پر هغوى مناســبه كرايه وټاكو او غوره ســلوک ور سره وكړو.لكه چې په حديث كې راغې چې غوره كور هغه دى چې خپلو ګاونډيانو ته يې خير ور سيږي. (عن عبدالله بن عمر بن العاص رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خَيرُ الأصحَابِ عِندَ اللهِ خَيرُهُم لِصَاحِبِهِ، وَخَيرُ الجِيرَانِ عِندَ اللهِ خَيرُهُم لِجَارِهِ) . رواه الترمذي

ژباړه:- له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي: رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل : تر ټولو غوره دوستان د الله په وړاندې هغه كسان دي چې د خپل دوست لپاره خير غوښتونكى وي او ترټولو غوره ګاونډى د الله په وړاندې هغه دى چې د خپل ګاونډي لپاره خير غوښتونكى وي .

**درنو مسلمانانو!**

كه څوک د ا سلاميت او افغانيت دعوى كوي ؛ نو دا د هر مسلمان افغان ايماني او وجداني دنده ده چې د را ستنيدونكو مهاجرينو ورونو مشكلاتو او سختيو په كمولو كې او په رفع كولو كې كوښښ وكړي او د خواخوږۍ او همكارۍ پرځاى يې په سختۍ او مشقت كې وانه اچوي.

دا د هر مسلمان افغان وظيفه ده چې د مسلمان مهاجر ورور څخه سختي لرې كړي او په هغه ا ساني راولي .په يو حديث شريف كې راغي: ( مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ - وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمَنْ سَتَرَ عَلَى مُسْلِمٍ سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ ). سنن أبي داود-ن (٤/ ٤٤٢)

ژباړه:- چاچې لرى كړه د يو مسلمان څخه سختي ددنيا ، لرى به كړي الله جل جلاله دده څخه سختي د قيامت د ورځې او چاچې آساني راو ستله په هغه كس باندې چې په سختۍ كې وي، ا ساني به راولي الله تعالى په ده باندې په دنيا او آخرت كې او چاچې پرده واچوله په يو مسلمان باندې پرده به واچوي په ده باندې الله تعالى په دنيا او آخرت كې او الله تعالى د بنده په كومک كې دى ترڅو چې بنده د خپل ورور په مرسته او كومک كې وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي چې مســلمان باید بل مســلمان په مشــکل او تکلیف په وخت کې هغه ځانته پرینږدي او یواځې یې سختو ونه سپاري بلکې د هغه حمایت وکړي ترڅو د سختیو څخه راووځي .په حدیث شریف کې راځي:(الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ). صحيح البخاري ت (٦/ ٢٢٧)

ژباړه:- مسـلمان د مسـلمان ورور دی ، نه به وربانديې ظلم کوئ، او نه به یې سـپاري دښـمن یا ځانته به یې نه پریږدي او څوک چې د خپل ورور په حاجت کې ؤ ، الله تعالی به دده په حاجت کې وي.

محدثینو د (ولا یسلمه) ترجمه داسې کړی ده هلاکت ته به یې نه سپاري او دښمن ته به یې نه سپاري او ځینې وایې : ددې معنا داده چې خپل ورور به هغه چاته یوآځې نه پریږدي چې ده ته زیان رسـوي بلکې نصرـت به یې او له هغه څخه به دفاع کوي. عمدة القاري (١٩/ ٢٤٠)

د پورتني احادیثو او علماوو د اقوالو څخه دا په ډاګه معلومیږي چې مهاجرین زمونږ ورونه دي او هغوی په سختی کې یواځې پریښودل او یا هغوی سختو ته سپارل چې درنې کرایانې هم سختي ده ، د اسلامي ورورګلوی مخالف کار دی.

مونږ ته په کار دي چې د مدینې منورې د انصارو په شان اخلاق خپل کړو. (عن أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ أَتَاهُ الْمُهَاجِرُونَ فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا رَأَيْنَا قَوْمًا أَبْذَلَ مِنْ كَثِيرٍ وَلَا أَحْسَنَ مُوَاسَاةً مِنْ قَلِيلٍ مِنْ قَوْمٍ نَزَلْنَا بَيْنَ أَظْهُرِهِمْ لَقَدْ كَفَوْنَا الْمُؤْنَةَ وَأَشْرَكُونَا فِي الْمَهْنَإِ). سنن الترمذي (٤/ ٦٥٣)

ترجمه:- کله چې نبي علیه السـلام مدینې منورې ته په هجرت راغی مهاجرین ورته راغلل او ورته یې وویل: ای د الله رسـوله! مونږ نه دی لیدلی بل داســې قوم چې هغوی دی زیات خرچه کوونکی وي د ډیر مال څخه او زیات خواخوږي دې کوي د کم مال د هغه قوم څخه چې مونږ ورته راغلي یو ، دوی زمونږ څخه تکلیف او مشقت واخیست او مونږ یې په راحت کې له ځان سره شریک کړلو.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**